دلوی شا عر دقیقی بلخی دمړینی
دزړم تلین په ویاړ ،۱۳۵٤ـمر غو می

د اطلاعاتو او کلتور وزارت

تږی یادونه

حبیب الله رفیع

ETTEHAD BOOK STORE
AFG.

دتاریخ ټولنی خپرونی
پرله پسی نومره (۱۱۱)

تېر یادونه

خپرو ونکی :
داطلاعاتو او کلتور وزارت
دافغانستان تاریخ ټولنه

PROPERTY OF
ACKU
5499

ویو نکی
حبیب الله رفیع

۱۳۵٤- دمر غومی ۱

د«تیریادونه» له ٤٥کال نه‌وړا ندی
شعرونو دنوموړی کال مطبو عا تـی
جایزه وړی ده.

مهتمم : محمد قاسم عار فی
دپښتی رسام: سیدجلال‌الدین
دچاپ شمیر : زر ټو که

څوخبرې

زموږ ګران هیواد افغانستان‌دومره ار زښتنا کـــــی اود ستاینې وړ ویاړنې لرې ،چې‌دهرې یوې فر هنګې‌پدیدې ښه والې او تا ریخې خوندونه یې‌دهر شاعر ، شاعرانه‌احساس په‌شور اوزوږ راولـــې او دې‌ته‌اړ یږې ، چې یې په‌ستاینه اویادونه کې څه ووایې .

«لومړی»

حساس اوو ظنپا لونکـــی‌شا عر او لیکوال ښا غلـــی حبیبا لله رفیع په تیروکلونوکی د هیواد دلر غونو ښارونو او تا ریخی‌میړونو په سنداینه‌کی څو پاړ کی‌ویلی وو، چی دادی او س د یوی کو چنـــی‌رسا لی په ښه چا پـــیـــزی. داطلا عاتو او کلـــتور وزارت‌د تـــا ریخ د ټو لنی آمریت ټینګ ای پوره باور لری، چی‌ددغو پاړ کو لوستل دهیـــواد په ځوانانو کی د هیواد پالنی‌حس روزی ، او خلکو تـــه دچوپړو هلو رو حیه‌ور تـــه‌پیدا کوی اود هیواد وا لـــو ملی غرور پیاوړی کوی.

مو ز ښا غلی رفیع‌تـــه ددی‌رسا لی د چا پیدو مبا ر کی وا یو، اود هیواد د فر هنگی‌ویا پونو په‌را ژ وندی کو لو کی یی لا زیات بریا لیتو بونه‌اود ستونزو سره غوا پړو . اودا رسا له دهیواد دلوی‌شاعردقیقی بلخی دمړینی دزرم‌تلین دلمانځنـــی پـــه و یاړ دادب‌دو ستانوته وړاندی کوو.

په‌در ناوی

دوکتور محمد یعقوب واحدی

دتاریخ ټولنی آمر

سریزه

ز مو ږ دلرغونې او ګرا ن
هیواد افغا نستان هـــــره
تیږه، کانۍ، بوټۍ،زوړ دیوال،
زړه کنډواله، زوړ قبر، زوړ
کتاب، زړی پا نې او هر څه

«دریم»

دتیروویا ډونو اوا فتحا روئو
ژوندی نمونې او نښې نښانی
دی، چې په لیدو سره یې وار
له‌وا ره « تیر یادو نـــه»او
پخوانی عظمت په ذهن کـــی
مجسم کیږی ،کوم وخت چـه
په‌دی نښو نښانو د شا عراو
ریشمی نظر ونښلی نو وار له
واره‌یی تصویر را کا ږی‌اود
ذهن نه یې د شعر چوکاټ ته
وسپا ری .

ددی لویو اوبی شمیـرو
عظمتو نو اوویاړونو د یـــوی
برخی یو نیمګړ ی او ډیـــر
کو چنی تصویر په دی اشعارو
کې کښل شوی اود تا ریخـــی
ویا ړونو دیوی کو چنی‌نمونې
په تو گه‌بې دادب مینا نـو او
دافغانستان دتا ریخ‌علاقمندانو
ته وړاندی کوم.

حبیب‌الله رفیع

«څلورم»

سرليكونه

۱) تاريخى ځايونه :

آريانا ته (۱ مخ)

بلـخ ته (۱۲ مخ)

بست ته (۲۸ مخ)

کندهارته	(۳۷ مخ)
ننگرهار ته	(٤۲ مخ)
۲) تاریخی کسان :	
امیرکروړته	(۱٤ مخ)
روښان ته	(٤۸ مخ)
خوشال خټك ته	(۲۲ مخ)
رحمان باباته	(۳۱ مخ)
ملالۍ ته	(٤٥ مخ)
غازی امان‌الله خان ته	(٤۰ مخ)
۳) راز راز :	
دپښتو ژبی شاعران	(٦ مخ)
دی پکښی کی	(۱۰ مخ)
په خزان کی پسرلی	(۱۹ مخ)
تیر دوران	(۲٥ مخ)
وصیت	(۳٤ مخ)

(زنه ۱)

«شپږم»

آریانا ته

د «آریائیانو» مځکی !
د « اصیلانو» مځکی !
دمیړ نیو زانګو !
داتلانو مځکی!

* * *

تادی « پولاد» لوی کړی !
تا « امیر کرور» وروزه !
ته د « سوریانو» کوریی!
هم د« غوریانو» مځکی !

* * *

«کابلشا هان» ووتاکی !
« زابلشاهان» ووتاکی !
هم «غورشاهان» ووتاکی!
د « رتبیلانو» مځکی!

* * *

وو «سلجوقیان» په تاکی !
هم « آل‌کرت» وو دتا !
دغیر تمنو کوریی !
د « لویکانو» مځکی!

* * *

« سبکتگین» دی اوی کړ !
« سلطان محمود» ؤ دتا!
دفاتحانو مینی !
دغزنویانو مځکی!

* * *

ته د«طاهر» خونه یی!
د « میمندی» وطن یی!
ته د« یعقوب» حرم یی !
د « صفاریانو » مځکی !

نه د«شیرشاه» مینه یی!
ته د « میرویس» زانگو یی!
تادی « محمود» روزلی !
د « هوتکیانو» مځکی!

* * *

د «احمد شاه» مسکن یی!
د « تیمور شاه» خونه یی!
د « زمانشاه »وطنه !
د « ابدالیانو» مځکی!

* * *

د « سنایی »مځکه یی!
د « بښکارندوی» مینه یی !
د «فرخی» وطن یی !
دادیبانو مځکی!

* * *

د « شیخ اسعد» مسکنه !
د « شیخ تیمن» وطنه !
د «شیخ متی» مینه یی !
دخدای دوستانو مځکی!

* * *

د « مولوی» وطنه !
د « بیټ» نیکه تاتوبیه!
ته د« جامی» خونه یی !
دعالمانو مځکی!

ته د « روښان» وطن یی!
ته د« خوشال» مسکن یی!
ته د« رحمان» مینه یی !
دشاعرانو مځکی!

* * *

ته د« سینا» خاوره یی !
ته د « ادهم» تاتوبی!
استاد « بهزاد» ؤ دتا !
دنقاشانو مځکی!

* * *

د «سړ بن» مسکن یی !
د «ابو الخیر» کوریی !
د « ملکیار» وطن یی !
دکاملانو مځکی!

* * *

د « جوزجانی» خاوره یی !
هم د «ماکو» مینه یی !
د «بیهقی» تا تهوبیه!
دمؤرخانو مځکی!

* * *

د « انصاری» وطن یی !
د «تایمنی» خونه یی !
د « نوایی» مسکنه !
ای دپوهانو مځکی!

ته د «غرغښت» مینه یی!
یی د«هوتك بابا» کور!
ته د «بهلول» وطن یی !
دزمریانو مځکی!

* * *

«ناصر خسرو» دتاؤ !
« هجویری» تالوی کړی !
ته د «جمال» مینه یی !
دحق دوستانو مځکی!

* * *

مطلب ستاکانې بوتی !
وایه له ویاړه ډك دی !
ته دادب زانگویی !
ادب دوستانو مځکی!

* * *

ای « آریانا» مځکی!
ای «خراسان» وطنه !
« افغانستان» هیواده !
د « افغانانو» مځکی!

* * *

«رفیع» دتا په مینه !
ایښی دی سر وطنه !
شی دی قربان له تانه !
د «سربازانو» مځکی!

۲۷ر۹ر٤٤ کابل

دپښتو ژبی شاعران

زړه رایاد کـړل شاعران دپښتو ژبی
تیرویونکی ، ادیبان دپښتوژبی .
«امیرکروړ» چی په ډګرکی‌لوی اتل ؤ
هم دشعر پهلوان دپښتـوژبی

« بیت نیکه» به ویل خوازه‌مناجاتونه
مؤثریی ؤ بیان دپښتــوژبی
«شیخ اسعد» به چی قلم پــه لاس کی واخیست
قصاید یی وو طوفان‌دپښتوژبی
« ښکارنــدوی» چــی دادب‌کمال ښکاره کړ
ځلاند لمر ؤ په اسمــان دپښتو ژبی
«شیخ متی» دخدای‌په مینه‌کی لاهوؤ
وو شعرونه یی روان‌دپښتوژبی
د« هوتك بابا» رزمی ترانی‌خوند کړی
پری غندل یی دښمــنان دپښتو ژبی
« ارزانی» خوازه شعرونــه‌دی ویلی
په ربښتیا دی سخنــدان دپښتو ژبی
دملی ادب بوستان پــه ده‌تازه ؤ
ښه ویل کړل «شیخ‌بستان»دپښتو ژبی
دعرفان خوږی نکتی یی‌اداکړی
نکته سنج ؤ « میرزا خان»دپښتو ژبی
هم درزم هم دبزم په میدان‌کی
« خوشالخان» ؤ قهرمان دپښتو ژبی
ټول کلام یی هم اعجاز، هم‌ابتکار دی
ؤ « رحمان» غیب اللسان دپښتو ژبی
دادب په مدرسه کی ؤ لوی‌شوی
ښه ویل کړل « اشرفخان »دپښتو ژبی
ښه‌خوازه ــ خوازه شعرونه یی ویلی
ؤ خوږ ژبی « قادر خان» دپښتو ژبی

دپښتو خوږی نکتی یی نظم کړی
او ی شاعر دی « صدرخان» دپښتو ژبی
چی اسمان ته یـی دشعـر زینی کیښوی
نازکخیال ؤ «حمید خان» د پښتو ژبی
دمسری نباتو خوند یی دی په خوله کی
پوخ ادیب دی «مسری‌خان» دپښتو ژبی
د « بیدل» وینا پیلی ملغلری
خوند ور لری دیوان دپښتوژبی
هم شاعر ، هم شعر دوست، هم ادب پال ؤ
« محمدی» ؤ قدر دان‌دپښتوژبی
تعمیری او بنیادی خدمـت‌دی کړی
«شاه‌حسین» باتور ځوان د پښتو ژبی
شاه نامه یی دمحمود هوتك لیکلی
فردوسی دی « رید یخان» دپښتو ژبی
لوی بابا، لوی «احمدشاه» چی لوی فاتح ؤ
هم شاعر ، ادیب ، سلطان دپښتو ژبی
ډك له در ده او له سوزه‌یی شعرو نه
په زړه خوږدی، «عظیم‌خان» دپښتو ژبی
ښه رنګین_ رنګین شعرونه‌دی ویلی
په خپل ژوند کی «علیخان» دپښتو ژبی
دتشبیه، استعاراتو په‌میدان کی
یکه تاز ؤ«کا ظم‌خان» دپښتوژبی
« پیر محمد» چی دخو بړی‌ژبی څښتن ؤ
ؤ بلبـل هـزار داستان د پښتو ژبی
ښه تللی او موزون دده‌کلام‌دی
« میاشرف» ؤ عروضدان د پښتو ژبی

د « حافظ » په صوفیانه‌خوږوویلو
افتخار کـوی صوفـیان د پښتو ژبی
«شمس الدین کاکړ» ویلی‌بنه شعرونه
دبدیع او دبیـان دپښتـوژبی
ټول دیوان یی بنکلی لړ دملغلرو
خوږ شاعر« میرزا حنان »دپښتو ژبی
داولس د'دب روح پـــه ده‌تازه ؤ
«زرکل» دی غـزلخـوا ن دپښتو ژبی
« سید کمال» دببو جانـی‌عشق ستی کړ
سوځنده لری بیان دپښتوژبی
«نوره دین» لری‌خـوږی ـ خوږی چار بیتی
هریو بند یی ځان ته ځان دپښتو ژبی
نور خوشحوانه بلبلان هم‌دی تیر شوی
دادب په گلستان دپښتوژبی
ما « رفیع» یی دایو څوکسه‌بیان کړل
دی بی شمیره بلبلان‌دپښتوژبی

٢٨ر٤ر٤٦

دی پکښې کی

دا پاڑ کی می، چې په کندهاری لهجه د ی ، خپل ګران دوست ښاغلی عبدالرزاق بړیخ ته لیکلی او کندهار ته می دیوه شخصی لیك په ملتیاوراستولی ؤ، څرنګه چی ځینی تاریخی تلمیحات لری او ملګرو خوښ کړی نو کټ مټ یی دلته را اخلم :

شعر نه دی ســلا مونه دی پکښی کی
کند هار ته تعظیمو نه دی پکښی کی
کند هار ځــکه زانگودملیت ده
چی « میرویس» غوندی میړونه دی پکښی کی
د « نازو» په شانی میندی یی روزلی
د « زینب» د درد شعرو نه دی پکښی کی
ور کی «پټی خزانی» موندلی کیږی
دادب تازه گلــو نــه د ی پکښی کی
هر بچی یی په زانگو کی راوینیږی
هو تکو تکبیر ونه دی پکښی کی
انار څه دی ؟ سیبی څه ؟او انگور څه دی؟
د « نارنج» غوندی قصرو نه دی پکښی کی
دو گړو هر هډجوړ په ملیت دی
د « احمد بابا» هډو نه دی پکښی کی
دزلمو وینی بی و لی غــــورځنگ نه گړی
د «ملالی» آوازونه دی پکښی کی
هر دیوال او هر مزارژوندی تاریخ دی
ساتل شوی تاریخو نه دی پکښی کی
د « پټی» او د « رابیا» رزم خو پریږ ده
د«مومن» (شیر پن) نکلو نــه دی پکښی کی
هره ورځ یی په قبرو نــو باندی گرځه
برکت او تاثیرونه دی پکښی کی
دی باور چی به ډیر ژرسره راوینښ شی
ویده شوی نهضتونه د ی پکښی کی

۱۳٤۸ر٦ر۱٦

بلخ ته

ستا خرابی چی گورم ،ستا نښانی چی وینم !
ستا و دانی تری بنکاری ،ستا مدنیت تری بنکاری !
ستا زوړ دیوال چی بنکاری، ستا اکنړوالی چی وینم !
دتا لویی تری بنکاری ،ستاعظمت تری بنکاری !

دتازاړه قبرونه ، دتا زړی مدرسی !
ستانو میالی کړی رایاد ، ستا عالمان کړی رایاد !
ستا «نوبهار» چی گورم، هـم ستا زاړه مساجد !
دتا «زردشت» کړی رایاد، ستا امامان کړی رایاد !

* * *

ستا افسانی چی اورم ،اوستا تاریخ چی لولم !
ستا په لویی دی گواه، ستا په ښکلا دی گواه !
ستا مرکزیت رابنیی ، ستا ودانتوب رابنیی !
ستانو میالتوب رابنیی ، ستا په زلماد ی گواه !

* * *

دتا علمی ذخیری، ستا ادبـی خزانی !
دتا پوهان را بنیی ، ستاادیبان رابنیی !
ستا نوابغ او شاهان ، هـم شاعران دی پکی !
ستا هنر مند رابنیی ، ستانقاشان رابنیی !

* * *

چی دصوفیانو یا دوی، دتـا «ادهم» رایاد شی !
چی غږ د «نی» واورمه ، ستا «مولانا» شی رایاد !
چی فلسفی بحث وی، یا وی دطب خبری !
دتا نامتو فیلسوف، «ابن‌سینا» شی رایاد !

* * *

په ډیر ادب به « رفیع» دتا نوم اخلی بلخه !
ته دادب زانگو یی ، دادیبا نو کوریی !
ستا په رښـه تاریخ کی، افتخارات نغښتی دی !
ډوی افتخار دی دادی، چی د «بنارونو مور» یی !

* * *

۱۳٤٤

امیر کروړ ته

داشعارو په ډګر کښې
هم دتورې په میدان کې
دتا سیال او همسنګ نه ؤ.
په خپل عصر او زمان کې !

په ربښتیا ته زمری وی !
له تانه ؤ بل اتل
نه په هند کی نه په سند کی
نه په مځکه دکابل

* * *

دبری غشی دی تل تلل !
همیشه پر میر څمنو
چی یرغل به دی پری وکړ
وو به ټول په ماتید نو

* * *

دبری په خول دی هسك تل
تاویدو په نمنځ او ویاړ
داس سوو دی ریږ دوله
مځکه ، غر دی کړ لتاړ

* * *

ستا دتوری تر شپول لاندی
وو هرات او هم جروم
غرج، با میان او په تخارکی
دتانوم به ؤ او دوم !

* * *

ته په روم هم پیژندووی !
ترتانه ؤ بل اتل !
هرغلیم به بیا نسکور ؤ
ستا دتو ری په یو ځل !

په مروه دی غشی لونل !
ډارید ل له تا دښمن !
چی په هره خوابه تللی !
رپیدل له تا زړن !

* * *

دزړنج سوبه دی وکړه !
هم دتوری په مخسور
با داری وته دی لوړ کړ !
خاندان او کول دسور

* * *

خپل وګړی په تاګران وو
لوړینه دی پری کړله !
په ډیر ډاډ به دی روزل دوی
پیر زوینه دی پری کړله !

* * *

هم په غرو دی وینا تلله
بی له ځنډ او بی له ټال
نړی ستاوه ، نوم به تل ستا
په دریځ ویل ستا یوال

* * *

دخپل پلار میراث دی خپل کړ
په مندیش کی ته امیرشوی!
ډیر ملکو نه دی رعیت کړل
دخپل عصر عالمګیر شوی !

دغور ټول کوټونه ستا وو !
برکې شك او هم تمران ستا !
بست ،خیسار ، زمینداورهم
ؤ فرمان په بالشتا ن ستا

* * *

دیر غښتلی پهلوان وی
ځکه کروړ خلکو بللی
په یو تن له سلو تنو ـ
سره جنګ کی جنګید لی

* * *

دپولاد په غیږ کی لوی شوی
وی دسور له اولا دی نه !
پښت په پښت ټول امیران وو
ستانیکو نه له مودی نه !

* * *

په پښتو باندی ولاړ وی !
په ننګ ټینګ وی توریالی‌وی!
څو پوشنګ په جنګ کی ومړی
په ننګ ولاړی ننګیالی وی !

* * *

دتا نوم به تل ژوند ی وی !
څه که ته ولاړی دنیا نه !
ستادمرګ تا ریخ زبادیږی
له «جهان پهلوانا» نه
(۵۹ = ۹۵ + ۱۵٤ هـ)

دپښتو لومړی شاعر وی !
دپښتون زړ ور واکمن وی !
روه دتا په نامه ویاړی !
د «رفیع» مقام څښتن وی !

* * *

۱۱ر٤ز ٤٣

په نړۍ کی پسرلی

په لاندینی شعر کی هغه وخت تمثیل شوی چی افغانانو دانګریزانو دلومړی تجاوز په مقابل کی د ۱۸٤۱ع کال دنوامبر په دوهمه نیټه په ملی قیام لاس پوری کړ. ددی ملی قیام ورځی دمنی دمړسم دعقرب په نیمایی کی وی او په دی شعر کی هم دهمدی موسم تصویر رابنکل شوی او دافغان او انګریز دلومړی جګړی دقهرمان غازی عبدالله خان اچکزی ی روح ته اهدا شوی دی.

۱۳ر٦ر٤۸

«کابل ، چهاردهی، قلای سرخ دغازی اچکزی مزار»

هوا سړه وه ،طوفانی غو ندی وه
دموسم وضعه بحرانی غوندی وه
با غـو نو شنی جا می بدلی کړلی
را غونو ښکلی څنـی کلی کړ ی
بوټو گلونـه پـه اغزو بد ل کړل
پاسته لیشپـر یی پـه لیشو بدل کړل
پسته وز مونه ، تو ند با دونه جوړ شول
له نسیمونه طو فانونه جـوړ شول
نری وریځی تو ری لړی شولی
داسما ن ستر گی ورته خړی شولی
غرونه رغو نه په یـو رنگ شول سره
بن او بید یا وی ټول همسنگ شول سره
ټولو له سره جامی خړ ی کړلی
سره یو رنگ یی ټیټی، لوړی کړلی
دوطن هر ـ هرځه عسکر غو ندی شو
په هر طرف سنگر ـ سنگر غو ندی شو

* * *

په هره سیمه کی جرگی جوړی شوی
دشا زلمیا نو مرکی جو ړ ی شوی
په ملا و ستنو ملا وی کلکـی شولی
په مردکو گر دنـی ډکی شو لی

* * *

شول زاولاړ « ملی قیام» دپاره
دخپـل کسات او انتقا م دپاره
ځوانا ن ډگر ته په ډو لو نـو راغلل
په خوشا لی په اتـنو نو راغلل

افغانی وینه پـه غور ځنګ راغلله
میرویسنی توره په شر نګ راغلله
وینی تو دی شوی په سا ړه منی کی
مینی پخی شوی په پا خه منی کی -

* * *

بالا حصار کی یی ایسار کـړ غلیم
څو یی تس نس او تار په تار کړ غلیم
چی به پری سمه ددو ی توره شو له
په هر غلیم بی ادی بوره شو له
داستعمار نقشی یی شنـه ی کړلی
په لړمړ ی ځل یی پښی ورلنډی کړلی
داستعمار قوی طاقت یی مات کړ
دانګریزانو لوی قوت یی مات کړ

* * *

چی یی خزان کی پسرلی کـړ وطن
دسر په وینو یی ژوندی کـړ وطن
سر یی کړ ځار د سر لو ړ ی دپاره
دخپل ملت هسکی غـــړ ی دپاره
دا ددی هسی میړ نیو کار ؤ
دوطن دوستو شا زلمیو کار ؤ -
دا خاوری نه دی دغیرت ټوټه ده
دادننګو نو او همت ټو ټه ده
(هو!)
دا دشهید قبر دی ، دادغازی مزار دی
دا له وطن نه قربان داځکزی مزار دی
پری درو دو نه زما ، پری سلامونه زما !

خوشحال خټک‌ته

تا زغملی ز حمتو نه !
ز ښته ډیر په ژوندانه کی!
دتا سیا ل کم پیدا کیږی !
په دی دو مره پښتانه کی!

* * *

دتا فکر ډیر عالی ؤ!
لر لیدونکی او تیز بین‌وی!
بښکاریدل به هرځه تا ته !
هنداره دزنګا نه کی !
* * *
ننګیا لی دز مانی وی !
دپښتو دادب پلار و ی!
ستا دفکر نیلی تیز ؤ
بریا لی وی هر یانه کی!
* * *
ستا قلم او دتا توره !
په یوه شانی تیره وو !
رسا تلل دواړه په منډه !
دغلیم په لړ مانه کی !
* * *
که څه هم تا دی تیر کړی!
زښته ډیر جسمی بندونه !
خو دتا فکر آزاد ؤ
نه شو بند په زولا نه کی!
* * *
که هر څو یی کړلی لیری!
خو چا تا باندی ترك نه‌کړل
ډك له مینی نه شعرو نه
دهیواد په بیلتانه کی !
* * *

PROPERTY OF ACKU 5452

دپښتون غم دی خوراك ؤ!
دپر دو منصب دی نه خوړ!
له دی لاری به کوږ نه‌شوی
که به غوځ شو ی په ورانه کی

* * *

دپښتون په حال ژړل دی
ددښمن په سر چنګك وی!
خپله خاوره دی ساتله
دخپل سر په بدلا نه کی!

* * *

« رفیع» استوی ستاروح ته
ای خوشاله سلا مونه !
دپښتون ابدی و یاړه
کوی تا ته تعظیمو نه !

۲۱ر٥ر٤٤

تیر دوران

ای گرانه وطنه تیر دوران دی چیرته تللی دی ؟
شور دانقلاب دی خاموش شوی دی اوغلی دی

* * *

اوس ستا په سوما کی ،خمار نشته ، مستی نشته ده
اوس هغه هسته دنوی ژوندا وهستی نشته ده

ستا دیماخم کی دانگورو شراب نه وینم
جام دی نسکور شوی دجمشید آب وتاب نه وینم
ستا په بلهیکاکی اوس ـ اوس بلی ډیوی نه ښکاری
هغه مقدسی او دمینی لنبی نه ښکاری
ستا دنو بهار له اوره ډك نغری سوړ شوی دی
ستا « ام البلاد» عمر خوړلـی دی زوړ شوی دی
ستا دتمدن زونه ډیوه خا موشه شوی ده
ستا انا هیتا اوس ـ اوس بیخی بی هوشه شوی ده
تاکی چی سکندر غوندی زورو نه او به شوی دی
اوس هغه سنگر هغه سرونه او به شوی دی
ستا آ مو خوشته خوله غـورځنگ ځنی لویدلی دی
شوردانقلاب دی خاموش شوی دی اوغلی دی

* * *

ستا لوړ هندوکش په لوړه غاړه لاژوندون لری
نښی دبابا او داستا نونه دپرون لری
ستا په سنگرو کی دمیړو دتوری نښی دی
ډیری ککری دغیر تمنو د لتـه خښی دی
دلته جغزی شوی ډیر له کبره ډك سرونه دی
دلته او به شوی دزور گیرو ډیر زورونه دی
دلته کی ویده دزما نو انقـلابونه دی
بند پکی ننگونه ، غیر تونه ، همتو نه دی
وینس یی کړه ، بیدار یی کړه یوازی وینښیدل غواړی
دا دغیرت وینی په رگو کی دویدل غواړی
وینی دزلمو ته مو دپلار دوینی رنگ ورکړه
توری دبابا ته مودځوان په لاس کی شرنگ ورکړه

داچی استعمار مو زو ی له پلاره شلولی دی
شور دانقلاب دی ځکه چوپاړکه غلی دی

* * *

۴۸ر۶ر۲۸

یادونه :

او اوس دجمهوریت دملی انقلاب په کیدلو سره یو ځلی بیا داردو ځوانانو ز موږ دملی مشر اوپه هیو اد کی د جمهوری نظام دموسس‌بناغلی محمد دا ؤد په لار ښوونه دخپلو غیر تمنو پلرونوخاطره ژوندی کړه ، دافغانستان په غیر ت خیزه سیمه کی یی انقلا ب راو ینبس کړ او دهیواد دملیونواو وطنپرستانو هیله یی ترسره کړه .

«ح - رفیع ۲۷ر۴ر۵۲»

بست ته

په خرابو دی چی نظر واچوم !
سنتا تیرو ختونه را په یادشی بسته !
سنتا ها تیر شوی عظمت‌او جلال !
سنتا زلمی ، جونه را په یادشی بسته !

* * *

هاغه زلمی چی له غیر ته ډك وو !
هم دپښتو او هم دننګ ټوټی وو !
په مقابل د غلیما نو کی دوی!
دژ وند تر پای پوری دجنګ نوټی وو !

* * *

او هاغه جونی چی په سپیـــن میدان کی !
دپښتنو زلمو پـــه څنګ ولاړی !
په پښتو ټینګی ، پـــه غیـــرت مینی !
هم دپښتو ن په نـــام او ننګ ولاړی !

* * *

ها «پټی خان» چی ستا په غیږ کی لوی شو !
وایه شپږ بریتی زلمی نه ؤ، څه ؤ ؟
په «ګوار یا نو» یی چی جوړ کړ ل څلی
وایه ربښتیا ، زمری نه ؤ ،څه ؤ ؟

* * *

هاغه « رابیـــا» ژړه بلبلـــه دتا !
چی و ه «پټی» سره په ننګ ولاړه
هیواد یی پریښود دخپل لوظ په خاطر
ځکه له ده ســـره تر هنـــده ولاړه

* * *

ستا «کرم خان» دیادولـــو وړ دی !
هم « پردل خان» دی بایدهیر نه کړو موږ!
ددوی دننګ غیر ت کـــازونه باید
هم سر سری لـــه نظر تیر نه کړو موږ !

* * *

هو! ستا ځلانده ماضی ثبت‌ده‌مو‌ږ ته !
ستا په ځلاند او په رو ښان تاریخ کی !
مطلب : ستر نوم « رفیع» مقام لری ته !
بسته ! دګران افغانستان تاریخ کی !

* * *

۱۳ر۱۱ر۴۲

رحمان باباته

دو مره توان او قدرت نه وینم په ځان کی !
چی څه ووایم دتا په عا لی شا ن کی !
خو یوازی څه نه څه تر خپله وسه !
ستا سیرت به لـتو م ستا په دیوان کی !

* * *

ته واعظ ، هم مبلغ ، هم مقتداوی !
هم ادیب وی ، هم شاعر اوهم پیشوا وی !
«وهر چاو ته په خپل شکـل څرگندوی ـ
آیینی غوندی بی رویه ، بـی ریا وی !»

* * *

دسر تاج دعاشقا نو ته وی ـ ته وی !
سر حلقه هم دصو فیانو ته‌وی ـ ته وی !
«دمیرزا او ارزانی د عوه دی پری کړه !»
قدر دان د شاعرانو ته و ی ! ته وی !

* * *

ستا دنو ی اجتهاد له بر کتـه!
دپښتو ادب پا یه شولـــه اوچته !
«چی دانور شا عران کا هغـه‌دی نه کړل
ځکه هر شعر دی خوږ د ی له‌شربته ! »

* * *

دپښتو دادب بـــڼ په تا ښیرازدی !
ستا بیان دهر پښتون دروح د مساز دی
«چی منکر پری اعتراض کولی نشی »
نه پوهیږم داستا شعر کـــه‌اعجاز دی ؟!

* * *

ستا ساده انشاء رنگینه ده‌بی‌شانه !
دهرچا ورسره مینه ده بی شانه !
« معطردی پری کشور دافغـانانو !»
ستا وینا ورته شیرینه ده بی‌شانه !

تا په عشق کی حاصل کړی لوړ مقام دی !
چی دی اینبی په دی لاره کی یوگام دی !
« یا به شهد ، یا به قند، یا به نبات وی»
چی له خو لی نه دی وتلی هرکلام دی !

* * *

په تاو یاړ دپښتنو دهـــر تبر دی
ستا په باب نظر دتهـو لـوبرابر دی
« نه خلیل، نه داؤد زی او نه مو مند وی»
تول پښتون ته دی په یـوشانی نظر دی !

* * *

مطلب دا چی دادب لـــوی قهرمان یی !
دادب په هر یو اړخ کـــی پهلوان یی !
« رفیع» استوی ستـا روح ته درو دونه
ته زموږ غیب اللسان عبدالرحمان یی !

* * *

۱۹ر۱ر٤۳

په ۱۳٤٦ کال کی درا ډیو
افغا نستان دیوی پسر لنـی
مشاعری شعر دی چی‌روحیه‌یی
دپخوانی نظام پوری تعلق لری

وصیت

ستا سو توده مشا عره ده ورونو!
خو ز ما شعر لږ څه سوړغوندی دی !

ستا سو او ږده مشاعره ده‌ورونو !
دا زما شعر خو څه وو چې غوندی دی !
ستا سو تازه مشاعـره ده‌ورونو !
خو زما شعر بیخی زوړ غوندی دی !
زما په شعر کی سوز نـــه‌ښکاری
رنګ یی دی تښنی خوندیی‌څه ښکاری ؟

* * *

دپښتنی احسا س لمن بـه‌نیسم
چی ز ما شعر کی څه سوز پیدا کړ ی
د خو شا لخا ن جا مع دیوان به ګورم
چی را ته وصف دنو روز پیدا کړی
رحمان بابا ته به ځو لـــی‌غو ږم
چی ما ته نوی شان ر موز پیدا کړی
ځمه دشعر د ر ویز گر شومه زه
تاسی به کینی ! دهر درشومه زه !

* * *

هن ! دا دی را غلمه سلام‌ملګرو !
مایو څه نو ی پیغا مو نـــه‌راو ړل
دخو شا لخا ن او در حمان‌له خوا می
په تا سی ټو لو ســلا مونه‌راو ړل !
دشاعرانو لـــه ګلـز اره څخه
ما دپښتو ادب ګلو نـــه‌راوړل
تارونه ډیر وو خو نغمه یوه‌وه
خولی خو وی ډیری ترانه‌یوه وه

* * *

ویل یی: پښتو بڼ کی گلان وکړیء !
پسر لنی گلان بلبل ته پریږ دیء !
دسرو ـ سرو گلو ســری گیډی ټولی
دمستو پیغلو تور وربل ته پریږدیء !
خوا ره پښتو مو کړیء له خاورو جگه
دخاورو باغ او بڼ کوم بل ته پریږدیء !
ځانځانی پریږ دیء پیوستون وکړیء !
له نوی ژوند سره تــړو نو کړیء !

* * *

وروڼو کویء خوږی ـ خوږی خبری
د ژوند کیسه می له تر خوڼکه ده !
تا سو ځو لی کی سره گلان راو ړی
زما ټو کری خو له اغــزوڼکه ده !
چك ـ چك به کړمه خو واه ـ واه ! مه غواړیء !
ځکه چی خو له می له سلگوڼکه ده
ما ته دلی ـ دلی غمو نــه پراته !
ماته ځولی ـ ځولی در دو نه پراته !

* * *

۲۰ر۱۰ر٤٥

کندهار ته

ته دهیواد دثقافت مر کزوی !
دپښتنو د حکو مت مر کـزوی !
ته دپو هانو ، عا لمانو زانگو !
هم ته ددوی دتر بیت مرکزوی !

* * *

په‌تا کی « پتهی خزانی» موند کیږی !
دتا هر گوټ له خزانو نـه‌ډك دی !
هم له علمی ښکلو آثـا روڅخه ،
هم داد ب له در دانو نـــه‌ډك دی !
* * *

« نا زو انا» شو ه ستا پـه‌غیږ کی لویه !
ځکه « میرویس بابا » یی‌ستا له پاره !
په خپله غیږه‌کی په ناز لوی‌کړ
ستا د آبرو او دلوړ تیـــاله پاره !
* * *

تا دی « میرویس» غوندی‌باتور روزلی !
چی په میړانه یی «گرگین»وواژه
قوم یی خلاص دده له ظلمه‌کړ لو
دښمن دملك هم یی ددیـــن‌وواژه
* * *

ستا « شاه محمود» هم توریالی میړه ؤ!
چی پر هر خوایی حکو مت‌چلیده
د «میرویس خان» نوم یـی‌ساته په همت
په میړ ننتو ب او په غیر ت‌اوسیده
* * *

تا « شاه حسین» غونـــدی‌ټولواك وروزه !
چی ؤ د علم او ادب پـا لونکی
تل بی در بـار‌څه عا لمانوډك ؤ
هم ؤ په ټینګه دهیواد ســاتونکی
* * *

« زینبه» هم ستا نو میالی بی بی وه !
چی هم په ننګ ، هم په غیرت مینه !
هم وه استا ده دخپل کوردښځو
وه دښه علم او ښی و ینـاځښتنه !

* * *

ها « احمد شاه » هم ستا پـه غیږ کی لوی شو
چی یی رعیت کړل تر ډیلی ملکو نه
بیا یی هم قدر دتا هیر نـه کړ لو !
که په قبضه یی شول ز ښت ډیر تختو نه

* * *

همؤ دتو ری هم څښتـــن دقلم
هم ؤ ادیب ، ادب پا لونکی بابا
هم دهیواد دپر مختګ حـامی ؤ
هم دهیواد پرا خو ونکـــی بابا

* * *

ستا عالمان ، ستا ادیبـان زښت ډیر دی !
چی دی محال دلته شمیر ل دهغو
دو مره دی ډیر چی شمیر یی څه کوی لا
حتی محا ل دی یا دو ل دهغو

* * *

زیات له حسابه داشان ډیر نو میالی
تا دی لوی کړی او رو زلی مدام !
اوس دی هم شته غیږ کی پوهان او لویان
په «رفیع» نوم باندی وتلی مدام !

ا ر ۱۰ ر ٤٤

غازی ته

ستا فدا کاری او ستا همت به افغان هیر نه کړی !
ستا زړ وری او شهامت به افغان هیر نه کړی !
ته وی چی دملك په مخ کی تیر له خپله سره وی
ستاداسر ښندنه او غیـر ت به افغان هیر نه کړی !

تیردی کړل په‌لار دخپلواکی کی تکلیفونه ډیر
ستا دغه زیارونه اوزحمت به افغان هیرنه کړی !
مات‌دی کړانگریز او خپلواکی دی تری ترلاسه کړه
ستا دالویه فتحه او نصرت به افغان هیرنه کړی !
مینه دهیواد باندی دی مینه دځان هیره کړه
ستا دا دزړه مینه او محبت به افغان هیرنه کړی!
ډیر- ډیرځه تیریږی او هیریږی له خاطر ځنی
ستا غښتلی عزم، لوړقدرت به افغان هیرنه کړی!
استوم درود اوزه « رفیع» متیقن یمه
څوچی وی دنیا ستاشخصیت به افغان هیرنه کړی !
٦ر٤ر٤٢

ننگرهار ته

ننگیا لو پښتنو کو ر یی!
ننگر هاره ـ ننگرهاره !
اوړی ، ژمی پسر لی یی
تل بهاره ـ تل بهاره !

* * *

ستا «هډه» ژوندی تا ریـخ‌دی !
پکـی پـټ لو ی مد نیت‌دی
آر ینا نو پکی کړی
په پیړیو عبادت دی

* * *

دتاریخ رڼه‌دوره ده
په « هډه» کی تیره شوی
تیره شو ی- تیره شوی
خو ده کله هیره شو ی

* * *

را سپار لی یـی تر ی موږتـه
دصنعت نبی نمو نی دی
دبابا د زیار میوه ده
دنیکه دلاس کاسی دی

* * *

آریا یی تاریخ له پاره
کار تری اخلو د ډیو ی‌موږ
شو لیدای یی په رڼا کی
دتاریخ پټی نکتی موږ

* * *

له آ دمه تر دی دمه
ستا « سپین غر» محکم ولاړدی !

سر لوړی کی اوسیدلی
ژوند یی ډك واړه له و یاړدی
* * *
ننګیا لی دی زیږید لی
دده غیږ کی ستا له پاره!
با تووان یی دی رو زلی
ډك له ویاړ له افتخاره
* * *
ستا دننګ میړو نه زیا تدی !
دادب میدان دی ډ ك دی !
دکلتـــور ستوری دی رو ښدی !
دتاریخ مزی دی کلك دی !
* * *
ټول دی سیل ته را درو می!
دښکلا ؤ ننداره تو ن یی !
د «رفیع» نامه څښتن یی !
ته ټاټو بی دپښتون یی !
* * *

۲۰ر٤ر٥!٤

ملالی ته

میړنی او غیر تی وی !
ننګیا لی او تور یالی ته !
هم ادیبه ، هم شاعره
ستره پوهه ملالی ته !

* * *

په جهاد کی دمیوند دی
کړی راز ـ رازکوښښونه!
له زلمو دی څنګ په څنګ کړل
له غلیم سره جنګونه !

* * *

هم زلمیانو ته دی ویلی
دغیر ت خو ږی بد لی !
دپیغور او تو متو نو
پیشګو یی دی و رته کړلی!

* * *

ورته ویلی دی په ز غرده:
«ځان شهید کړه ای لالیه !
ستا له وینو به ایږ دمه
زه خالو نه تور یالیه !»

* * *

هم دی داسی ورته ویلی :
« که میوند کی شهید نــه شو ی!
نو ساتو دی بی ننګی ته
که له ننګه لیری ته شوی!»

* * *

مطلب دا چی دی در لوده
ستره برخه په میوند کی!
لویه برخه دی اخیستی
دافغان ملت په ژوند کی!

* * *

هیر به نه کړی افغان هیڅوخت
ستا زیارونه ، ستا ر بړونه !
په ادب به دی نوم اخلی
کوی ستا به تعظیمو نه!

* * *

هم دتا سپیڅلی روح ته
استوی به تل سلام !
ددی خاوری هریو غړی ـ
به لری ستا احترام !

* * *

خصو صا پښتنی نجو نی ـ
به په تا کړی تل و یاړ نه !
ستا کارونه به سر مشـق کړی
هم به تل کړی ستا ستـاینه !

* * *

کار نامی دی دتا ډیر ی
چی قلم پکی نا توان دی !
بس « رفیع» دغو مره وایی
ستا صفت خو لوی جهـان‌دی :
« میړ نی او غیر تی وی
ننګیا لی او تور یالی ته !
هم ادیبه ، هم شاعره !
ستره پو هه ملالی ته ! »

۱۲ر٤ر٤۲

روښانه

ته ټوټه د ننګ غیرت او دایمان‌وی !
د هیوا دتیاری دی لانـدی‌کړی روښا ن وی !

* * *

دپښتو ن دلمر لویـدو وی‌دو دولی !
دپر دیو په‌تیریو ځـــو ریدلی !

څکه څیری دی دتوری‌شپی‌کړیوا ن کړ !
خپل هیوا د دی په‌یوه نو ی‌لمر روښان کړ !
ستا درمی هم ستانیز ی‌هم‌ستا قلم وی !
ددښمنه ووپړی سینی قلم‌قلـم‌وی!
نی و تاب ستا دوینا نی‌ستادتوری !
ستاله لاسه به‌وی‌تل‌دښمنی‌بوری !
خپل و لس‌به دی ژغوره دبل له‌وا که !
دپردیو له بنکیلا که‌له څبیښنا که !
په میـــراث کی دی ننګ‌پریښو دخو شمال خان ته !
کړ د ختك ته، کړ دپښتون‌ته، کړ د افغان ته !
رابیدا دی میرو یسا ن ا واحمدا ن کړل !
کړندی دی نهضتو نه ډافغا ن کړل !
تارو په‌کړه د ملی‌غورځنګولاره !
له تیرا، ترا کوړی تـــــرکند هاره!
له‌کابل تر پیښورتر ســـــردریا به !
ستازا منو ملت ایست تل‌له‌گر دا به!
ستاز اړه ځلمی اوس هـــم‌دی په‌ډګر کی!
دښمنانو ته ټینګ‌نا ســـت‌دی په سنګر کی !
لااوس هم ستا په روښانه‌لارروا ن دی !
که «زلمی پښتو ن» کـــه زوړ (فخر افغان) دی !
دتالار به وی رڼاستا پـــــه‌زا منو !
ستاپه خاور ه‌به ټیك ژه و ی ددښمنو !

تاریك نەوی ، تاریکیان‌ستادبنەمنان وو!
تە د خپلو ، دوی دنورونوکرا ن وو!

* * *

تە روښان وی ، روښـــا نیی، تل بەروښا ن یی !
تە ښکلا بە دپښتو ندد ی‌اسمان یی !!

The Past Memories

A collection of Poetries about famous men and historical Places of Afghanistan

by

Habibullah Rafi

Published by the Historical Society of Afghanistan
Kabul, 1975.

دولتی مطبعه